افغانستان

پښتو

# د ERRIN ستنيدونکو

## کډوالو لپاره بيا يوځای کيدو پروګرام

Co-funded by the Asylum, Migration and Integration Fund of the European Union

Migration in Action
Migratie in Beweging

european return and reintegration network

## د ERRIN په اړه

### د کډوالو د ستنيدو او بيا پيوستون په اړه يوه ګډه تګلاره برابرول

د ستنيدو او بيا پيوستون اروپايي شبکه (European Return and Reintegration Network, ERRIN) د 15 همکار هيوادونو څخه تشکيل شوی چې د هغو کډوالو په ستنيدو او بيا پيوستون کې مرسته وکړي کوم چې نشي کولی، يا نور نه غواړي په اروپا کې پاتې شي. دغه شبکه هغه وګړو لپاره چې خپل اصلي هيوادونو ته ستنيږي بېلا بېلې اړتياوې پوره کوي لکه، مشوره ورکول، اړونده مراجعو ته معرفي کول، او د بيا پيوستون مرستې.

د دي پروګرام تر چتر لاندي، ACE/IRARA د خدماتو د وړاندې کوونکي په ډول قرارداد شوې اداره ده چې ټولو راستنيدونکو ته (داوطلبانه يا غير داوطلبانه) په افغانستان کې د بيا پيوستون په لومړنيو ګامونو کې مرسته وکړي.

ERRIN د اروپايي اتحاديې د پناه غوښتنې، کډوالۍ او بيا پيوستون د وجهي صندوق (AMIF)، او د ګډونوال ملي اژانسو لخوا په شريکه تمويليږي.

د لا ډير معلوماتو لپاره: www.returnnetwork.eu

## د ERRIN همکار هېوادونه

| | اروپايي همکارې ادارې |
|---|---|
| اتريش | د کورنيو چارو فيډرالي وزارت |
| آلمان | د کورنيو چارو فيډرالي وزارت، ودانۍ او ټولنې - د کډوالۍ او مهاجرينو فيډرالي دفتر |
| بريتانيا | د کورنيو چارو وزارت |
| بلجيم | د پناه غوښتونکو د جذبولو فيډرالي اژانس / د کډوالۍ فيډرالي دفتر |
| ډنمارک | د مهاجرت او بيا پيوستون وزارت |
| سويتزرلينډ | د مهاجرت دولتي دارالانشأ |
| سويډن | د سويډن د مهاجرت اژانس |
| فرانسه | د کورنيو چارو وزارت - د کډوالۍ او بيا پيوستون دفتر |
| فنلنډ | د فنلينډ د مهاجرت خدمت |
| لوګزامبورګ | د بهرنيو او اروپايي چارو وزارت |
| مالټا | د کورنيو چارو او ملي امنيت وزارت |
| ناروې | د ناروې د کډوالۍ رياست |
| ندرلينډ | د عدالت او امنيت وزارت - د بېرته ليږلو او راستنيدوکوخدمت |
| هسپانيه | د کارمندانو، مهاجرت او ټولنيز امنيت وزارت - د مهاجرت څانګه |
| يونان | د کورنيو چارو وزارت او اداري بيا رغونه |

## زموږ سره اړيکه ونيسئ

د ERRIN پروګرام تر چتر لاندې ACE/IRARA د ستنيدونکو لپاره په کابل، هرات، مزار، کندهار او ننګرهار کې دفترونه لري.

## IRARA

***موږ دلته ستاسې سره د مرسته کولو لپاره يو!***

**د ملاقات لپاره پته** ACE/IRARA، کور شميره ۳۸۵، ۵ سرک، کارته ۳، شيرمه ناحيه، کابل

**کاري ساعتونه** يکشنبه – پنجشنبه
د سهار 8:30 نه تر ماځيګر 4:30 بجو پوري

+93 (0)796 999 261

afghanistan@irara.org

loc.afghanistan@irara.org

www.irara.org/afghanistan

ACE Afghanistan Center for Excellence

IRARA

## آیا تاسې د
## د مرستو د تر لاسه کولو لپاره واجب الشرایط یاست؟

که تاسې د افغانستان تابع یاست او غواړئ یا مجبور یاست چې د ERRIN همکار هېوادونو څخه (چې لست یی په معلوماتي پاڼه کې شته) ستون شئ تاسې کیداي شئ د دې پروګرام څخه د ګټې اخستلو لپاره واجدالشرایط اوسې.

ستنیدونکي کیدای شي داوطلبانه او غیر داوطلبانه د هر عمر او پېژنیال خاوند وي په شمول د:

- پناه غوښتونکي
- رد شوي پناه غوښتونکي
- عادي کډوال او غیر عادی کډوال
- بې سرپرسته ماشومان
- نور اسیب پزیره وکړي

د واجب الشرایط تعیندل د ERRIN همکار هېواد کې د مسؤلو مقاماتو له خوا کیږي. د بیا پیوستون مرسته به یوازې د دغه مقاماتو د مثبت تصدیق د چیک نه وروسته ورکول کیږي.

که تاسې له یوه همکار هېواد څخه راستانه شوي یاست او تراوسه مو د بیا پیوستون مرستې لپاره عریضه نه دي کړي، تاسې لا هم د مرستو لپاره واجدلشرایط یاست. تاسې باید په لومړیو 3 میاشتو کې راجستر شي. د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د ACE/IRARA دفترونو سره اړیکه ونیسئ.

## تاسو څنګه
## عریضه کولی شئ؟

تاسو د ERRIN په همکارهېوادونو کې د ERRIN اړیکو له لارې عریضه کولی شئ. تاسې کولی شی ډیر معلومات ترلاسه کړئ.

ستاسو د بیا پیوستون خدمتونه د ERRIN همکارهیواد د تصویب څخه وروسته فعالیږي.

که تاسې مخکی دمخه افغانستان ته ستانه شوي یاست، تاسې کولی شی ددی فورمې پر شا ورکړل شوي اړیکو جزئیاتو په استفادې IRARA دمحلي استازیو سره اړیکه ونیسئ او غوښتنلیک وکړي.

*په یاد ولرئ چې دا وخت په شبکه کې شامل ټول همکار هېوادونه په افغانستان کې د *ERRIN* په مرسته د بیا پیوستون مرسته نه وړاندې کوي. پدی کار کی بدلون راتلای شی د تازه معلوماتو لپاره سلاکار څخه پوښتنه وکړئ.*

## څه ډول
## مرسته به ورکول کیږي؟

د ERRIN پروګرام تر چتر لاندی د راستندونکي په حیث، تاسې د ACE/IRARA په وسیله د یو لړ راستنیدو او بیا پیوستون خدمتونو لپاره واجدلشرایط یاست ترڅو تاسې خپل هېواد ته د ستنېدو سره سم د نوي پیل په چارو کې کومك وشي.

دا خدمتونه په غېر مالي بڼه ورکول کیږي او ستای د راتګ ځای، پېژنیال، او ستاسی د خاصو اړتیا په پام کی نیولو سره په بیلا بیلو ډولونو وړاندی کیږي.

## عملي
## تګلاره

### روانېدو څخه مخکې

که د ERRIN همکار هېواد د مقاماتو په واسطه ستاسې غوښتنلیک تصویب شوی وي، تاسې د اړین انتظامات د برابرولو لپاره IRARA (www.irara.org) څخه د معلوماتو غوښتنه کولی شی.

### کله چې راورسیږئ

افغانستان ته د رسېدو وروسته، ACE/IRARA کولی شي تاسې ته اساسي مرستې برابر کړي.

- د هوایي ډګر څخه پورته کول یا د رسیدو په ځای کی ستاسې ښه راغلاست
- په هیواد کی دننه د وړاندې سفر مرسته
- مؤقتي استوګنځي
- د بیړني روغتیای پاملرنې مرستو لپاره راجع کول
- نور اساسي لوازمات

### د بیا پیوستون خدمتونه

ستاسو لپاره د بیا پیوستون ځانګړي پلان جوړلو په لړ، ACE/IRARA به ستاسې سره په ګډه کار وکړی ترڅو دغه پلان په ورکړل شوي مبلغ کی ستاسې حالت او اړتیاو ې په پام کی ونیسي. خدماتو کې شامل:

- ټولنیز،قانوني او صحی روغتیایی ملاتړ
- اوږد مهاله استوګنځي ملاتړ
- د ښوونځي او ژبې روزنه
- د دندې موندلو ملاتړ
- تخنیکي او مسلکي روزنه
- د کاروبار پیلولو ملاتړ
- د اسیب پزیره ډلو لپاره ځانګړې مرسته

## په اړه

د څو کلنو د دوامداره موجودیت سره، **ACE/IRARA** له 2017 راهیسې افعانستان ته راستنیدونکو افغانانو ملاتړ کوي. موږ په کابل، هرات، بلخ کندهار او ننګرهار کې د بیا یوځای کیدنې مراکز لرو.

د ACE/IRARA ټول مسلکي سلاکاران د افعانستان اتباع دي دوی د نورو اتباعو ځای پر ځای کولو کی پراخه تجربه لري کوم چې د بریالي بیا پیوستون لپاره د ځانګړي او انفرادي اړتیاو پر اساس مشورې ورکولو او ملاتړ کولو په پایله کی ترلاسه شوی.